دوکتور محمد اکبر یوسفی ۲۰۲۱/۱۲/۱۳

# د طالبانو د رهبرانو سره څو لنډې خبرې!

*« خطرناک ده، چې ته مستحق و اوسې، کله حکومت په نا حقه وی» ("ولتیر")*




د دی لاندنی خبر په اوریدو سره چې انځور ئی هم وینی او ویل کیږی چې: «**د سیکانو مذهبي کتاب له افغانستانه هند ته** ولیږدول شو»، سخت وریږدیدم. ولی؟ معلومه نده چې د دی حرکت، د اصلی مجرمینو سازمان ورکوونکی به کوم «افراطی» ډله وی. «اسلامی افراطیت» او که «هندی افراطیت» او یا دواړه. په هر حال، زه تاسی ته د هغه آلمانی فزیک پوه استدلال بیانوم، چې د «جنګ پر ضد وو» او په ځوانی کی ئی د ذروی فزیک د نوبل هم جائزه تر لاسه کړی وه، او د "کاتولیک د کلیسا" د رهبرانو سره په مناقشو کښی، چې د دنیا پر مسئلو باندی ځیرنی کیدلی، ویل، «**چې د دی نړی د پیژندنی، په تحقیقاتو کښی، موږ د خپلی پوهی پرته، هدف ته نسو رسیدلای**» د همدی استدلال څخه د مخه د تیرو قرنونو د کشفیات او اختراعات په نتیجه کښی، چې د «ارسطو» فرضیی د دنیا او کائنات په باب غلط ثابت سوی وه، نو لمړی د «کلیسا» رهبران ئی دی ته مجبور کړل، چې هغه غلط معلومات چې په خپلو دینی موعظو کی نړدی دوه زره کاله تکرارول، نور بیا تکرار نکړی او دی ته هم و هڅول سول، چې د «سیکولاریزم» او د «دیموکراسی» لاره غوره کړی. پدی معنی چې د «دولت چاری» د «دینی چارو» څخه بیل کړی. اوس هم د افغانستان خوار او غمجن خلک، تاسی ته وائی چې موږ، په تیره بیا زموږ ځوان نسل، بیله د خپلی پوهی او د علمی او تخنیکی، هنری، شغلی مهارتونو څخه، چې یواځی د آزاد ژوند په شرایطو کښی ممکنه ده، نسی کولای چې ددی وطن ستونزی، حل کړی او همد رنګه ستاسی د «افراطی» تصور، چې مو د «دیوبند» او یا په نورو پاکستانی مدرسو کښی زده کړی کړی، زموږ د ټولنی داسی تشخیص کړی، چې ددی وطن د پاره د تباهی او د زهر شیندنی په شان ده. دنیا ثانیه په ثانیه، ورځ په ورځ تغییر کوی او د دنیا عالمان پدی پوه سوی دی چې، دا دنیا زموږ د ذهنی او د تخیلی تعبیرونو تابع نده. زموږ صلح غوښتونکی خلک د «افراطیت» او د «آزادی» د دښمنانو څخه سخت نفرت لری او د دی بی ختمه جنګ څخه ستړی او ستومانه دی. تاسی څه کوی او ځوک یاست؟ موږ د خپلو نیکونو څخه د اسلام فرائض زده کړه، کړی او د قرنونو په اوږدو کښی نسل په نسل مو دا کلتور او عنعنه ساتلی او هم وده مو ورته ورکړی. اوس باید و ځیرل سی، چې د دی جنایت او خیانت، مجرمین به څوک وی. دا کثیف ماغزه او لاسونه د دی توری پردی تر شا، به د چا وه، چې ښایی هڅه کړی وی، چې زموږ هندو او سیکهه وطنوال چې د دی خاوری زامن دی، د دی خاوری څخه محروم کړی او زموږ د ټولنی غړی را څخه جلا کړی. داسی معلومیږی چې د توری پردی تر شا، باید


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالي دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

پدی دسیسه کښی د دی سیمی د رقیب دولتونو، لکه «پاکستان» او «هندوستان» استخباراتی «ماشینری» او د هغو، د مذهبی افراطی ډلګیو، پکښی لاس درلودلی وی. د یوی خوا ځخه تاسی د «دنیادوالو» ځخه د خیل حاکمیت، رسمیت پیژندنه غواړی او د بلی خوا ځخه د «عقایدو د تفتیش» زوړ سیاست، پلی کول غواړی. اوس د دی ښځی مخ ته بنه په ځیر شی. دا هغه نه هیریدونکی انقلابی ښځه ده («اولومپ د ګوژ» اصلی نوم «ماری ګووز» (Marie Gouze)، زیږده: د می اومه (۷) ۱۷۴۸م او په دریم د نومبر (۳) ۱۷۹۳م د اعدام حکم صادر او عملی کیدل) چی د ښځو د حق د پاره د فرانسی په انقلاب کښی درنه برخه درلودله او د «روښان کیدنی» د دوری د مشهورو «ژمان لیکونکو» ځخه پیژندله سوی وه. د « اولومپ د ګوژ» د سیاسی عقیدی د بیانولو او د هغی د دفاع په جرم سر غوځ کړل سو، مګر د هغی، هغه اعلامیه چی د ښځو او د اتباعو د حقوق په باب، په ۱۷۹۱م کال کښی لیکلی وه، اوس د همدی ملګرو ملتونو د بشر د اساسی حقوق، لویه برخه ده، چی ستاسی نومول سوی استازی، لا تر اوسه پوری د همدی نړیوالی اتحادیې، چی د افغانستان، د ځوکی د ناستی د پاره انتظار باسی، تاسی په افغانستان کښی اوس په یوویشتمی پیړی کښی د ښځو حق تر پښو لاندی کوی، چی ۲۵ کاله د مخه مو هم دا کار و کړ. د آلمان د «شترن» د مجلی ځخه اخستل سوی چی لولو: « **(افغانستان: د "قرآن" او "کلاشنیکف" په وسیله: دوی د متعصبینود په صفت شدید جنګیالی یادیږی – مګر طالبان چی کابل تسخیر کړی د اسلام د امرونو پر بنسټ هر وخت عمل نه کوی، دوی تر ایرانی ملایان، بد تر عمل کوی. طالبان د افغانستان - پاکستان د سرحدی د قرآن د مکتبونو ځخه دی چی د هر زده کوونکی د پاره، ۱۳۰ دالره مزد او د هر قوماندان، د پاره ۳۰۰ دالره د جنګ د پاره جذب سوی دی. دا ټول د ۱۹۹۴م په منی فصل کښی د «بنسټ پال، افراطی مسلمان حرکت د پشتون خلګو ځخه د ملا محمد عمر تر لار ښوونی لاندی را ټول کړل سوی او لمړی، قندهار تسخیر کړی. تر هغه وخته پوری دا د افغانستان دویم لوی ښار پیژندل سوی، چی د «هیروئین» د تجارت مرکز په شهرت یاد سوی وو. په لمړی مرحله کښی «هیروئین» تاجران اعدام کړل، د غلو لاسونه پری کړل او ښځی ئی د رسمی کار ځخه بیرته کورونو ته واستول او دوی ته د کور د وتلو اجازه، بنده کړه. د هغو تجهیزا تیوازی «کلاشنیکوف» او ۲۰۰ د چین او د ښوروی ساخت پخوانی تانکونه، ثقیل توپونه او د «میګ ۲۱» دوله یو لس الوتکی د ۲۵۰۰۰ جنګیالیو په واسطه، ولایتونه یو په بل پسی و نیول)** ("شترن" د آلمان چاپ ، شمیره ۴۱ کال ۱۹۹۶م) **اوس تاسی ځه کوی، او ځه فکرونه مو په سرو نو کښی در ګرځی؟** زه پدی یقین لرم چی لوستونکی، د « د ګوژ» د تأریخی اعلامیی په محتوا خبر دی، خو دلته د نمونی په توګه، یو څو مادی، چی په جرمنی ژبه دی لیکوونکی لاس ته رسیدلی، ژباړنه، درنو لوستونکو ته وړاندی کیږی: « **ماده ا: ښځه آزاده پیدا سوی او د نارینه سره مساوی ده [...] ماده اا: د هر، سیاسی اتحاد، د طبیعی او د وخت په تیریدو سره نه ورکیدونکی د ښځی او د نارینه حق ساتنه ده: دا حقوق عبارت دی د آزادی، شتمنی (ملکیت)، امنیت او تر هر ځه د مخه مقاومت د ظلم او استبداد پر ضد: «ماده ااا: د هر دولت د زور بنسټ د هغه د موجودیت پر بنا، یعنی ملت، چی هیڅ بل ځه ندی، غیر د بیا اتحاد د ښځی او نارینه. ماده IV: آزادی او عدالت پدی کښی ده چی، هر هغه ځه باید ټول بیرته ورکړل سی، چی هغه چا ته تعلق و نلری. پدی ډول د ښځی د طبیعی حقوق عملی کول هیڅ یو سرحد نلری، غیر د هغه نه، چی د نارینه د دوامداره ظلم سره مقابله لری. دا سرحدونه باید د طبیعی قوانینو په واسطه او د تعقل د لاری اصلاح سی».** د دی مادو په لیدو سره د خدایه ځخه و بیریږی او بالاخره ویښ سی، د «لیونتوب» ځخه لاس واخلی، د افغانستان خلګ د پاکستانی «سمیع الحق» او «فضل رحمن»، «عمران» او د هغه «قریشی» فاسد درواغګو او نور پاکستانیانو باندی



Olympe de Gouges



Hinrichtung Olympe de Gouges' mit der Guillotine, Tuschezeichnung von Lavis de Mettais, 1793
(د «اولومپ د ګوژ» د اعدام جریان، ترسیم د «لویز د میتالیز»، ۱۷۹۳م)


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

باور نلری. پدی نړی کښی تاسی یواځی «نوکران» نه یاست. «لیونیان» او «افراطی ظالمان» د خپل صفوف څخه وباسی، افغانستان مو خپله خاوره ومنی او د دی خاوری خلک و ساتی، د هر دین پلویان چی دی. موږ انسان ته ضرورت لرو، نه غلو او لیونیانو ته. پدی دنیا کښی یواځی تاسی وجود نلری. باداران مو هر وخت چی وغواړی، «نوکران بدلوی». غرور او جهالت پریږدی، ښځه او نارینه باید د مساوی حق په درلودلو سره آزاد او په صلح کی ژوند وکړای سی. تاسی څه ذهنی او عقلی ستونزی لری؟ چی، ښځی کار ته نه پریږدی او یا د تعلیم او زده کړی، او هم د کار دروازی وربا‌ندی تړی. **تاسی چیری لوی سوی یاست؟** «سیکان» لکه هر بل افغان، د دی خاوری زامن دی. پدی و پوهیږی چی د انسان پواسطه ایجاد سوی ارزښتونه چی د کلتور او فرهنګ په برخه کی شامل دی، د بشریت د پاره د پوهی ګنجینی دی. په یوه خاوره کښی چی د بیلو بیلو «ادیانو» معتقدین او پیروان، وجود ولری، نو د هغی تولنی د دی ګنجینی د ملکیت پیاوړتیا ښیی. دا حرکت چی زموږ تولنه زموږ د هندو او سیکهه د پیروانو څخه جلا کول غواړی، زه سخته خواښینی کړم. ډیر د افسوس ځای دی چی وطنوال مو نه یواځی د خپل ژوند او امنیت په باب خوښینی دی، بلکه دښمن د هری خوا څخه هم هڅی کوی چی د دوی د مقدساتو څخه هم نا وړه استفاده وکړی او هغوی ته د له مینځه تللو خطرات ورته ایجاد او یا تمثیل کړی. یو مثل دی چه وائی مار چیچلی، د پړی (رسی) څخه بیریږی. د بامیان د «بوتانو»( «تندیسانو»)، الوزونه، توله دنیا متأثره کړه. زما د مقالو لوستونکی خبر دی چی زه ولی «سیکولاریزم»، د یوه سیاسی - اداری او حقوقی نظام د پاره، زمونږ په خاوره کښی د انسان د معقول او د صلحی په ر نا کښی د ژوند د پاره ترجیح ورکوم. زه د هری افراطی «ډلی» چی د کوم دین په نوم و غواړی شخصی شهرت او منفعت ته ځان و رسوی، مخالف یم. د دین تر نامه لاندی «افراطی» ډله غواړی قدرت تر لاسه کړی او تولنه د «دیکتاتوری» او «توتالیتاریزم» و خوا ته یوسی. زموږ په خاوره کښی چی دا دی بیا تر دروغلوییښتو کالو زیات عمر کښی، د بی ګناه انسانانو وینی توئیږی، لمړی د «کمونیزم ضد» تر «شعار» لاندی او وریپسی، د «صلیبی» او یا «یهودی» او پدی ورځو کښی بیا د «هندو» او «مسلمان» تر نامه لاندی، غیر انسانی او د جنایت څخه ډکی دسیسی روانی دی. د انفرادی انسان د آزادی حق، چی د هغه دین (عقیده) بیله دولتی مداخلی څخه، آزاد و تاکلای سی او په عمل کښی په خپله اراده سره، سر ته و رسوی، د بنسټیز انسانی حق په برخه کښی یوه ډیره پخوانی برخه تشکیلوی. زما دا څو کلمی دا معنی نلری چی زه د دین پر خلاف و اوسم. نه خیر، زه په خپله د خپل دین د فرائضو عملی کول، د صلحی په صورت کښی غواړم چی د نورو په څنګ کښی، په امن تر سره کړم. زه کوم انسان ته نه تسلیمیږی، تر هغه وخته پوری چی پر همدی دین باندی، باور ولرم. زه هغه څه پر مخ بیایم، چی د خدای امر وی. دلته، توپیر د دین د پیروانو تر مینځ ده چی د افراطی او د عقل څخه لیری تعبیرونو د مبلغینو او د واک غوښتونکی، چی د عادی او ساده مسلمانانو د تصور او باور سره په ټکر کی دی. خلک ښه پوهیږی چی اصلاً د سیاسی قدرت د پاره، د دین څخه په نا وړه توګه کار اخستل کیږی. دلته زه ضرورت نلرم چی، تاسی ته تشریح کړم چی زه ولی مسلمان یم. مګر پدی هم پوهیږم چی دین په جبر ندی. او کله چی ماته هم دا حق راکړل سوی، نو زه په خبله پوهیږم چی د خپل حق څخه څنګه دفاع وکړم. یا به د دفاع قوت لرم یا به نلرم، خو پدی وخت کښی خدای حاضر او حضور دی او په خپله پوهیږی، چی د چا ګناه ده. لمړی باید ما څوک د آزاد انسان او لکه تول نورو انسانانو په شان د مساوی کرامت د خاوند په توګه ومنی، بیا به زه د هغه خبرو ته غوږ ونیسم، که سیاسی هدف ئی ما ته معقول ښکاریده، خو حمایت به ئی وکړم. په سیاسی حاکمیت کښی د دائمی بیعت و چا ته معقول نه بولم. باید موضوع روښانه وی. او د تداوم امکان هم د سنجولو وی. کله چی پر یوی عقیدی باندی باور ولرم او هم قبول کړی می وی، نو بل هیڅ څوک، حق نلری چی زما څخه


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلي مقالي دي آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

هم  دا پوښتنه وکړی، چې ولې، پدې عقیده یم. هیڅ یو بل انسان ته هم چې ځان د ایمان خاوند وبولی، د کوم امتحان د ورکولو، ضرورت نلرم. او یا بل چا ته هم حق  نه ورکوم چې راته و وائی، چې ولې می دا دین قبول کړی. زه هم د چا د دین په باب پوښتنې نه کوم. خو ما ته په ټولنیز ژوند کښی دا مهمه ده، چې زه باید د چا پر دین او شخصی عقیدی باندی تجاوز و نه کړم. کله چې ما نابېره، د «ایران د شهزاده»  او «ولیعهد» کومه ورځ تلویزونی خبری واوریدی، چې ویل : «زه به هیڅ کله د خپل وطنوال څخه دا پوښتنه و نه کړم، چې دی «شیعه» دی او که «سنی» او یا دا چې د کوم دین څخه پیروی کوی، د ده دا موضعګیری، چې د ده د پلار اوږده پاچاهی، یو ځلوېښت کاله د مخه د «ملا خمینی» د «جنګی پلویانو» له خوا سقوط ورکړ سوی وه، او دیموکراسی او خلاصه ټولنه غواړی، د قدر وړ بولم. دین او عقیده شخصی و بلله، چې د تأئید وړ ده. اوس راګرځو اصلی موضوع ته. دا چې پدی وطن کی د دروځلوېښتو کلونو را پدی خوا څه بدبختی او د انسان د وینی تویدنه جاری ده، تشریح ئی د دی مقالی موضوع نده. د پورتنی خبر په لوستولو، بیا تکراروم چې سخت خوابښنی سوم. زه نه «هندو»، نه «سیکهه»، نه «یهود»، نه «عیسوی»، نه «اتائیست» او یا د نورو ادیانو پیرو یم. دینی منسوبیت می د یو «سنی مسلمان» په صفت لکه څنګه چې ما د مور او پلار څخه اوریدلی وه، چې زما د زیږیدنی څخه وروسته، په شپږمه شپه، زما د مور د کاکا  په آواز چې ملا عبدالصمد نومیده او د همدی کلی او د دی محل لوی ملا تیر سوی دی، زما په غوږ کښی «آذان» کړی او پر ما باند د محمد اکبر نوم ایښی دی. د هغی ورځی راهیسی چې اوس کیدای سی چې د ۷۵ کالو عمر ولرم، د دنیا د ملکونو په ټولو کتابونو او دفاترو کښی، د مسلمان په هویت، ثبت یم. زه نه غواړم ستاسی سره احساساتی خبری وکړم. زما د مور د هغه کاکا زامن، او لمسیان او حتی کړوسیان یی همدا اوس ژوندی دی ما ډیر پخوا هم زما د وطن په باب چې «کثیرالاینتی» او «کثیرالادیان» او «کثیرالمذهب» ټولنیز جوړښت لری، لیکنی کړی او همدا رنګه د دی تر۴۳ کاله زیات غمیزه خونړی بحران کښی، د هر انسان په مرګ غمجن سوی یم. خپله کورنی می هم شهیدان ورکړی دی. زما په «ټبر» او د «قوم» په جمله کښی هم طالب سته او هم د طالب ضد. البته نوری سیاسی ډلی هم سته، چې یو د بل سره د مفکوری اختلاف لری. لکه څنګه چې می څو کاله د مخه هم لیکلی وه، چې زه د ۱۷ کالو په عمر چې د کابل د دارالمعلمین څخه فارغ او کابل پوهنتون ته معرفی سوی وم، مګر د کورنی د ژوندانه، خاص شرایطو له کبله، مجبور وم چې، د قندهار د احمد شاه بابا په لیسه کښی ښوونکی سم. هلته می د اوم ټولګی څخه نیولی تر یوولسم ټولګی پوری د یو ځوان معلم په توګه، د ریاضی، فزیک او حتی د ضرورت پر وخت د «قرآن شریف» درسونه ورکړی. دا ځکه چې ما د خپل مور په کمک، مخ کی تر دی چې د رسمی مکتب د شاملیدو سن ته ورسیږم، د قرآن شریف قرائت می زده کړی وه، او د قرآن شریف ښه قرأئت، په ښه تجوید، تر هر څه بل، زما خوښیږی، خو ستاسی د سیاسی- اسلام ، د «دیوبندی» مکتب او د پاکستانی ملایانو د «افراطیت» سره موافق نه یم، همدا علت دی، چې زه د ټولو ادیانو د پیروانو او هم د غیر «دینی» انسانو، همګرائی او په صلح کښی ګډ او ټولنیز ژوند غواړم. دلته هم  که زما د قندهار د ځوانی دوری د معلمی ورځی را په یاد کړم، نو ګوندی تاسی ګرانو لوستونکو ته هم جالب وی: ما هندو او سیکهه شاګردان چې د قندهار اوسیدونکی وه هم درلودل. زه پدی پوهیدم چې دوی د «قرآن شریف»، په ګړی کښی اوریدو ته مجبور نه وه، او  هدایت دا وو، چې پدی درسی ساعت کښی، دوی به د صنف څخه د باندی وی. خو دا ډله شاګردان، ځکه را باندی ګران وه، چې ډیر با استعداده او کوښښی شاګردان وه. د دوی د تحریری پارچو په اصلاح کولو، به زه همیشه ښه راحت وم. کله چې می د خپل د وطن د «سیکانو» کتاب ولید، نو زموږ د محل کلتور را په یاد سود. دا آنځورونه زما د «نیکه» ( محمد ایوب د هغه پلار نوم سید محمد خان او د نیکه نوم


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

عبدالعزیزخان او ورنیکه عبدالرسول خان: ټوله د ګلستان د ولسوالی مرکز ته نږدی په شمال خوا کښی، ښخ دی.) د «هفت هیکل» شریف او زما د مور د «قرآنشریف» ښځه اخستل سوی دی، چی نیکه می د خپل د مرګ ښځه د مخه زما مور ته وصیت کړی وو، او ویلی وه ، چی باید د دده «هفت هیکل ښریف» د کورنی نارینه بعدی نسل ته ورکړل سی. ویل کیږی چی نیکه می د محمد ایوب طبیب په نوم مسمی سوی وو. د یونانی طب پوهه درلودله. مور می تر هغه وخته پوری چی سترګی ئی نه وه ضعیف سوی، خپل هغه قلمی قرآن شریف لوستله، چی پلار ئی ورته د واده په ورخ ورکړی وه او کله چی سترګی ضعیفی سوی وی، او د هغه قرآن شریف حروف لږ کوچینی وه، نو د هغی مشر زوی چی وروسته شهید سوی، خپلی مور ته د نوی چاپ قرآن شریف هدیه کړی وو. دا قرآن شریف او «هفت هیګل شریف»، چی انځورونه ئی پورته وینی، ما په ۲۰۰۷م کال کښی، کله چی زموږ مور په امریکی له دی دنیا سره مخه ښه و ویله، نو ما جرمنی ته، راوړ. پدی آنځورونو کښی وینی چی زموږ د کلی خلک، قرآن شریف معمولاً په اوو پوښونو، کښی محفوظ ساتی. دلته په اروپا کښی ولیدل چی زما عرب او ترک دوستان چی مسلمانان وه، قرآن شریف لکه د نورو کتابونو، په شان بی پوښه ساتی. زه ستاسی سره "دینی" بحث نه کوم، خو دا قصی می د دی دپاره وکړی، چی زموږ د وطن مسلمانان، حقیقتاً د پاکستان او د «دیوبند» د «افراطیانو» درس او هدایت ته په کرکه ګوری او د دوی اوامرو ته ضرورت نلری. اوس د همدی اروپا د بر اعظم ښځه د یو نامتو فیلسوف او لیکوال، چی مستعار نوم ئی «ولتیر» یاد سوی، او د داسی شخصیتونو د نظریو تر سیوری لاندی، «فرانسوی انقلاب» کامیابی ته رسیدلی




چی په نتیجه کښی د انسان د «آزادی» او د هغه د کرامت په پیژندنی او په تیره بیا د ښځو او نارینو د مساوی حقوق، په باب او لنډه دا چی د بشر د اساسی حقوقو اعلامیه صادره سوی او تر اوسه پوری همدا اوس د ملګرو ملتونو اساسی کړن لاره پیژندل سوی. دلته تاسی ته په پای کښی د «ولتیر» ("ولتیر"، زیږیدنه: ۲۱ نومبر ۱۶۹۴، مړ: ۳۰ می ۱۷۷۸م، د ۸۴ کالو په عمر) دا نقل قول چی د جرمنی د ژبی ښځه «ژباړنه» سوی، وړاندی کوم: « **زه هغه څه چی تاسی وایاست، ورسره موافق نه یم. خو تر وروستی حده پوری به مبارزه وکړم، چی تاسی د دی د ویلو حق ولری!**»

پایان



برای مطالب دیگر دوکتور محمد اکبر یوسفی روی عکس کلیک کنید


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com